

# د ویتنام حماسه

# د امریکې رسوایي


م. بنیامین

ژباړه: سرمد

**د ویتنام ولس له امریکې سره په جګړه کې حماسه وزیږوله**

**د امریکې امپریالیزم له ویتنام سره په جګړه کې رسوایي وګټله**

**له خپلواکۍ او آزادۍ پرته بل څه نشته**

**هوشي مين**





په ټولې نړۍ کې،

د دې خاورې پر سر

هر چیرې او هر کله

یو ملت سر راپورته کوي

ځو خپل لاسونه او پښې

د ستم او استثمار له بندونو څخه

خلاصې کړي

او د آزادۍ او خپلواکۍ پولو ته

ورسیږي.



د امریکې په نوم اختاپوت

چې د اته پښو پر ځای

اته زره پښې لري

او د نړۍ د اختاپوتانو مخکښ دی

د پنځه ستورو جنرالانو

او د شین سترګو سرتیرو په مټ

د توپ او ټانک او جنګي بیړیو

او بم غورځونکو او الوتکو تر شا

د یوه ملت په وړاندې دریږي

او وایي چې:

زه یم د نړۍ د کمزورو هیوادونو واکدار

نو، هرڅه چې غواړي

باید زما نه یې وغواړي

هغه هم امریکایي ډوله

یعنې:

امریکایي آزادي!

امریکایي خپلواکي!

او هر څه،

د امریکې د بشري حقونو تر سیوري لاندې!

داسې ملتونه شته چې یا له ډاره

تسلیمیږي

یا د خپلو پلورل شویو رهبرانو لخوا

تیرایستل کیږي

او له مبارزې څخه لاس په سر کیږي

او په همدې امریکایي آزادۍ!

امریکایي خپلواکۍ!

او د امریکې د بشري حقونو تر سیوري لاندې!

زړه خوشحالوي.





خو،

هغه ولسونه چې

دغه ځانځاني ځناور په ښه ډول پیژني

او د اوږدو مبارزو په ترځ کې

د هغه په ماهیت پوه شوي

د هغه د عوامفریبۍ په وړاندې

له خپل ټېر څخه ډال جوړوي

او غبږ پورته کوي، چې

**نه!**

او په دې ډول

اختاپوت په قهريږي

خپله لکۍ خوځوي

خپلې شونډې په غاښ چيچي

ځکه د جوړجاړي لارې د هرې خوا نه تړلېويني

خپلو بې اراده سرتيرو ته د يرغل

فرمان ورکوي

او هغوی ځمکه او زمان په اور لړي

او داسې ګومان کوي چې

په توپ او ټانک او جنګي بيړيو

او په بم غورځونکو او عوامفريبۍ سره

بريالي کيدای شي

او پر زړونو حکومت کولای شي.

تاريخ تل

تر ټول ګويا شاهد دی

او د ويتنام سرګذشت

د تاريخ تر ټولو ښه شاهد.





د ویتنام ولس

پیړۍ پیړۍ وړاندې

یو ملت و

په یوې ژبې یې خبرې کولې

د یوې پولې په محدوده کې یې ژوند کاوه

او د پخوانې کلتور خاوند

د پردیو د یرغل پر ضد یې

د مقاومت او میړانې اوږد دود درلود



د ویتنام ولس

د فرانسوي ښکیلاکګرو د واکمنی پر ضد

له اتیا کالو مبارزې وروسته

د دویمې نړیوالې جګړې په پای کې

د هوشې مین تر مشرئ لاندې

او د نړئ د پرمختللو ځواکونو په مرسته

په ټول هیواد کې

د ویتنام دموکراتیک حکومت

جوړ کړ.



له هغې وروسته

ملت د اسارت له بند څخه خلاص شو،

او ټولو

د سولې او سوکالی په سیورې کې

په کار او هڅې پیل وکړ.

د سولې او بیارغونې هغه ورځې

ځومره ښکلې وې.

ټول ویتنام

په سولې او آرامۍ کې و.



هرې خوا د پخلاینې او ملګرتیا فضا وه.

آسمان شین

د مرغانو نغمې په زړه پورې

او سلام او روغبړ

له شور او شوق او مهربانۍ څخه ډک وو.

ماشومانو په هر ځای کې

له اندیښنې پرته

په خوشحالۍ سره په آزادې هوا کې لوبې کولې.

د ژوندانه څرخ

له کلونو جګړو او کړاونو وروسته

له کلونو وینې او اور وروسته

له کلونو مړینې او ژوند وروسته

یو وار بیا په حرکت راغلی و.

ټول د بیارغونې په حال کې وو

کنډوکپر سړکونه یې هوارول

ویجاړ پلونه یې بیارغول

بمباران شوې کروندې یې اړولې

ویجاړ کورونه یې جوړول

او ښوونځي یې

چمتو کول.





خو له بده مرغه،

د دې آزادئ لمر

ډير ژر پريوت.

ځکه چې د دښمن زړه

يخ شوی نه و،

او په موذيانه ډول په کمين کې ناست و.

آخر څرنګه يې ليدلای شول

چې يو ملت هڅه کوي

پر خپلو پښو ودريږي

او نور نه غواړي

د پرديو اسارت ومني.

او نور د پرديو په لاس

د خپل ټاټوبي د شتمنيو لوټ نه مني

دا ځل هم دښمن هماغه دښمن و

يوازې خپل نوم يې بدل کړی و

فرانسه تللې وه

امريکه په لار کې وه.



یو وار بیا

د ویتنام سوله ییز آسمان

د باروتو له لوګکي ځخه

تور شو.

یو وار بیا،

کرونده ګر له خپلو کروندو راستانه شول

او وسله یې پر اوږو کړه.

کارګران له کارخانو راستانه شول

او وسله یې پر اوږو کړه.







ښوونکي او زده کوونکي له ښوونځيو راستانه شول

او وسلې يې پر اوږو کړې.

نور نو مرغانو سندرې ونه ويلې

او چا دومره وخت نه درلود

چې له خپلو خپلوانو سره

په ګرمۍ سلام او روغبړ وکړي.



د امریکې امپریالیزم،

له ستر جنګي ماشین سره

ډګر ته راغلی و

زرګونه پلي سرتیري او افسران

د هوایي ځواک ستره برخه

بیلابیلې بیړۍ

سلګونه الوتکې او جنګي هلیکوپترې

سلګونه بم غورځونکې

میلیونونه ټنه بمونه

سلګونه زره ګیلنه کیمیاوي مواد.

او په دې ټولو وژونکو وسایلو سره یې

ادعا کوله،

چې غواړي په ویتنام کې

له هغې سولې او آزادۍ څخه چې له خطر سره مخامخ شوي،

دفاع وکړي.

شپه او ورځ



په پرله پسې ډول:

ښارونه

کلي

سړکونه

کارخانې

ښوونځي

روغتونونه

کرنيزې ځمکې

او هر هغه ځاى چې په کې د حيات نښه وه

د مرميو د باران

او د بمباريو لاندې يې نيول.

او ادعا يې کوله

غواړي له هغې سولې او آزادۍ څخه

چې په ويتنام کې له خطر سره مخامخ شوي،

دفاع وکړي.



د ویتنام جګړې کلونو دوام وکړ

په دغو کلونو کې

میلیونونه ویتنامیان او امریکاییان

په خاورو او وینو کې لت پت شول.

میلیونونه ویتنامیان او امریکاییان

علیل او ناقص العضو شول.

میلیونونه ویتنامي ماشومان

د بمباریو له کبله

ټوټې ټوټې شول.

بې شمیره ودانۍ ویجاړې شوې

زیاتو کرنیزو ځمکو

اور واخیست او لمبه شوې.



خو د ویتنام اتل ولس

په خپلې بې سارې میړانې

د دومره کړاونو او مصیبتونو په وړاندې

مقاومت وکړ.



همدا وو

چې بالاخره

د آزادئ لمر راوخوت

او د ویتنام زیارکښان

د بریالیتوب دروازو ته ورسیدل.

مات شوی دښمن

د ننګ او کرکې له پېټې سره

په خپلو زړو الوتکو



او له کاره لویدلو ټانکونو او بېړیو

له زرګونو سرتیرو او افسرانو سره

سرټیټی او بیچاره

خپل ټاټوبي ته ستون شو.



یو وار بیا

د سولې سپینو کوترو

د ویتنام په آسمان کې الوتل پیل کړل.

یو وار بیا

اتل او بریالي ولس

متحد او یو موټی

د خپل هیواد په بیارغونې پیل وکړ.

یو وار بیا

ماشومان ښوونځي ته ولاړل

کروندګر بیدیا ته

کارګران کارخانو ته

او ژوند له سره پیل شو.



نور په ویتنام کې

مرغان هیڅکله له سندرو ویلو نه ستړي کیږي

هیڅکله ښوونځي نه تړل کیږي.

هیڅکله د کارخانو څرخ نه ودریږي

هیڅکله کرونده ګر پر ځمکې خپل کار نه دروي

او نور هلته د جګړې بوم (کوَنګ) خپل غږ نه پورته کوي.

ځکه هغوی

وروسته له دې چې دښمن ته ماته ورکړه

د دښمن عاملان یې

په ټيټ سر له هیواده وشړل

یو وار بیا یې د جدایۍ دیوال ړنګ کړ.



یو وار بیا شمال او سویل یو شول

ټول د یوه بل لیدلو ته ورغلل

د یوه بل لاسونه یې په ګرمۍ ونیول

او خپله بریا او وحدت یې ولمانځو.

ځکه چې له مودو راهیسې

د ویتنام ولس

یو ملت و



او په یوې ژبې یې خبرې کولې

او د یوې پولې په محدوده کې یې ژوند کاوه.

له فرانسې وروسته

امریکې په ویتنام کې څه غوښتل؟

ولې یې په دې ټاټوبي کې خپل لاسونه په وینو

ککړول؟

د څه لپاره یې د دومره جنایت او قتل او لوټ بار

پر اوږو ووړ؟



ځواب يې روښانه دی:

د ويتنام جګړه

امريکايي پانګه والو پيل کړې وه؛

هغه پانګه والو چې د امريکايي امپرياليزم مشري کوي.

هغوی د ختيځ په يوې برخه کې خپلې ګټې

په خطر کې ليدلې؛

او د آزادۍ او له آزادۍ څخه د ملاتړ په نوم

د يوه ملت آزادي يې تر پښو لاندې کوله



او د لويديځ لوډسپيکرو

په خپلو لوډسپيکرو کې

د ويتنام د آزادۍ لپاره

د امريکې د سربښندنې فرياد پورته کړی و.



لیوني جانسن

خپل ستونی ځیرې کاوه

چې د دې آزادۍ د ساتلو لپاره:

لا زیات کسان ووژنئ

لا زیات ځایونه ویجاړ کړئ

لا زیات جنایت وکړئ.

او په خپلو ټولو امکاناتو سره

د شمالي ویتنام ټاټوبی

چې د ویت کنګ چریکانو ملاتړ کوي

له خاورې سره خاورې کړئ.

خو جانسن او پلویان یې

څومره احمقان وو

پانګه وال څومره لوده ګان وو

د امریکې امپریالیزم ملاتړ کوونکي څومره ړانده وو



چې ګومان یې کاوه

په توپ او ټانک او بیړیو

کولای شي ولسونه وډاروي

ولسونه تیر باسي.

او د دغې ویرې او عوامفریبۍ په سیوري کې

پر هغوی حکومت وکړي

او ټاټوبی یې لوټ کړي.

څومره ړانده وو هغوی

او څومره ړانده دي د هغوی نننې ځای ناستي

چې د خپلو پخوانیو کسانو له حماقت څخه یې

د عبرت درس اخیستی نه دی.



اوس نور

د ویتنام ماشومان

پوهیږي

چې پانګه والي د امپریالیزم ملاتړې ده؛

او امپریالیزم د انسانانو دښمن دی.



او هغه ملت چې پوهه تر لاسه کوي

پانګه والي له منځه وړي

له امپریالیزم سره مبارزه کوي

پانګه والي او امپریالیزم خاورو ته سپاري

او له هر ډول زبیښناک څخه آزاده ټولنه

جوړوي.

له دې کبله،

روڼ سهار

د مبارزو ولسونو په برخه کيږي

هغه ولسونه چې د پانګه والی

او امپریالیزم

پر ضد جنګيږي.



او د مريتوب بندونه

او د اسارت زنځيرونه

د انسانانو له لاس او پښو څخه ليرې کوي.

نن ورځ



ويتنام يوه بيلګه ده.

د ټولو هغه ولسونو بيلګه ده

چې د اختاپوت يعنې د امريکا د اختاپوت

په منګولو کې لاس او پښې وهي.

هغه امريکا چې له ټولو تجهيزاتو سره

د ولسونو د ارادې په وړاندې

د زيارکښانو د ځواک په وړاندې

عاجزه ده.

اوس

د ټولو ستم ځپلو هيوادونو ماشومان په خپلو کتابچو کې ليکي چې:

امريکا هسې ټپوس دی

ويتنام د دې خبرې شاهد دی.

## "سیند خپرندویه" خپاره کړي دي:

۱.د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه:فرهاد ویاړ

۲.دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قربانی، ژباړه: مرینه سحر

۳. د یوه شاعر اندیښنې، احمد شاملو، ژباړه: فرهاد ویاړ

۴.یو شعر چې کرکه ده، پاڅون دی او انتقام ـ سپیڅلی

۵.مور مې ښکلې نشوه، رضا فرمند، ژباړه: فرهاد ویاړ

۶.مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا.لنین، ژباړه: هاشم سهار

۷. لیوهولان ـ یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!، ژباړه: فرهاد ویاړ

۸ د شناخت په اړه یو څو خبرې، صمد بهرنګي، ژباړه: څرک

۹.ارنستو چه ګوارا، م.بنامین، ژباړه:فرهاد ویاړ

۱۰.اولدوز او کارغان، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۱.کوراوغلو او کنجی حمزه، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۲. د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه، ی. و. ستالین، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۳- زما ګیتارا! ویکتور خارا، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۴ ـ مخکښ شهید، لوچیاپن، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۵- ډیر ترویج، ډیر تبلیغ. ای . میشتر، ژباړه: ولي

## خپریږي:

## د تضاد په اړه – مائوتسه دون، ژباړه: ولي



۱۳۹۰